سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۸/۲۹

# په حساب بی باوره!

جوړه وه یی ته په بل چا، زه یی خپله جوړومه
ته یی ګــــوره جنــتو کی، زه یی دلتـــه لټومه

شنو درو، خړو باڼدو کی، حورې نه دی کمی شوې
ته ورځه پسـی محشر ته، زه یی غرو کی لمسومه

ما لیدلی لار د ستورو، ستا تعویذ می په کار نه دی
ســاده ګانو ته لار ښایه، زه په خپـله لار ورځمه

ستا دوزخ له اوره ډک دی، زما زړه کی دي ګلونه
خـوروه دی خپـل اورونـه، زه ګلــونه غوړومـه

ما لیدی چی را روان وی، سرولمبوسره شنه باغ ته
زه دغره له هسکې څوکې، لکه کنډه رغړید مـه

تاغوبنتل چی رانژدی شی، له ماهم جوړه سپرغی کړی
خو زه هیـله د ښکلا وم، لکه اور نه جوړیدمـه



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

بی باور په حســاب ته یی، ډاروی ما له حسابه!

زه می رب ج او کلیوال ته، دحساب د پاره ځمه

نو راځه که نه ویریږی، د حساب کتاب میدان ته

پښــیمان نشـــی رهــبره، انــتـظـار درتــه کومه

اګست/۲۶/۲۰۱۹

ایجکس ـ تورنتو ـ کاناډا

**** **** ****

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

په حساب بی باوره!

kliwal_s_٤٥_pa_hessaab_bey_baawara.pdf